مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۵/۰۸/۲۶

# باغ

زه مې په باغ کې ومه
له خپلې مينې سره.
له چا مې تمه د سجدې هم نه‌وه
نه مې تاووس سره څه رخه وه
او نه‌مې وه ډېره لاس کې
چې چېرته مار ووژنم.
باغ مې وجود و
او «هغه» به هر سهار راپاڅېدله زما له کينې پښتۍ
مورې د نرګسو له هيندارو څخه يو د بل د سترګو «کليمي» لوستلې
ښکلي څښتن،
لکه ښوونکي راښووله د ګلونو ژبه .
هست ومه،
مست ومه
رودل مې له جوړه انارو
د پېژندنې شراب .
زه مې په باغ کې ومه
منه مې بوی کړه
او غنم مې د وربښمو په تار وپيیل د يار غاړې ته
اوس رانه هېره ده،
چې چا ته چا سجده ونه‌کړه؟
او چا راپورې کړل تورونه زما په نشته لمن؟
نه مې منه وخوړه،
نه مې د غنمو دانه .
ما منه بوی کړه
او غنم مې د وربښمو په تار وپيیل د يار غاړې ته
نه مې له مار سره بدې وه،
نه مې رخه د تاووس پېژنده
خدای خبر څه پېښه وه
چې يوناڅاپه زه او زما هغه ښايسته ملګرې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

چي هرسهار به پاڅېدله زما له کیني پُښتئ
له باغه وشړل شو
- باغ -
چي په موږه ګران و.
او دا دی
موږ تبعیدیان
په یوه بله دونیا
یو تور کارغه ته ځیر یو
چي خپل بچي خښوي.
کارغه وزګار نه دی، چي ویېپوښتم:
-ښاغلیه ته پوهېږې،
چي موږه ولي تبعید شوي یو له باغوطنه؟
له موږه هېره ده،
چي چا ته چا سجده ونه کړه؟
موږ نه له مار سره دوښمن وو
نه مو رخه د تاووس پېژنده
نه مو منه خوړلي ،
نه مو د غنمو داني
ښښتن یې ویني، چي غنم شول د «هغې» غاړه‌کئ
چي هرسهار زما له کیڼ اړخه راپاخي داسي تکه سره وي
لکه ښکل‌شوې او بوی‌شوې منه.
څوک شته، چي وپوښتي په کومه ګناه
را تبعید شوي یو له هغه باغه
چي اوس هم ګران دی په موږ؟
ښاغلی کارغه!
وخت لرې؟
یوه پوښتنه لرم .
ولي دې یو زوی په بل زوی وواژه؟
ښاغلی کارغه !
زما او ښښتن ترمنځه ولي ناست یې؟
پرېږده، چي مخامخ یې پوښتمه:
موږ دلته ولي راغلو؟
او
زه مي ولي
هره شپه
هغه بایللی باغ په خوب وینمه؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ